مجیب الرحمن ساپی

۲۰۱۱/۰۸/۲۱

# تر ۲۰۲۴ کاله د امریکا شتون او زموږ اندېښنې

له شاوخوا یو کال را په دې خوا د افغانستان او امریکا تر منځ د ستراتیژیکو اړیکو تړون پر سر ناندرۍ روانې دي او د دغو ناندریو په بهیر کې موږ هره ورځ نوې او متفاوت خبرونه اورو.

یو ځل افغان حکومت وایي: د دواړو هیوادونو (امریکا او افغانستان) تر منځ د یاد شوي تړون پر سر خبرې شوي، چې تر ډېره بریالی هم دي او دغه خبرې اترې تر ډېره بریده بریالی هم وې؛ خو بل ځل بیا وایي: د امریکا او افغانستان ترمنځ خبرې اترې په لومړني پړاو کې دي.

شاوخوا دوه میاشتې وړاندې یو ځل بیا افغان حکومت اعلان وکړ، چې له امریکا سره د ستراتیژیک تړون پر سر خبرې اترې دویم پړاو ته رسیدلي او امریکایي پلاوی د دویم ځل لپاره افغانستان ته راغلی، چې د افغانستان له لورې ځینې شرطونو په اړه له افغان چارواکیو سره خبرې اترې وکړي، چې افغان لورې مطرح کې چې په کې په افغانستان کې د هغو زندانو واک افغان ځواکونه ته سپارنه، چې دمګړۍ د امریکایي ځواکونو په ولکه کې دي ، چې اوسمهال له امریکایي ځواکونو سره دی افغان دولت ته یې سپارنه، په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د فعالیت قانونمندېدل، د افغان ځواکونو روزنه او سمبالښت او همداراز تر ۲۰۲۴ کاله د افغان دولت له بیلابیلو برخو سره مرستې او ځینې نور شامل دي.

خو د افغان حکومت له لورې د دغو شرطونو له اعلانیدو وروسته په افغانستان کې د امریکا سفیر راین کراکر وویل: امریکا له افغانستان سره ستراتیژیک تړون نه لاسلیکوي او دا به یوازې د یوې اعلامیې په بڼه وي، چې د بهرنیو چارو وزارت یې په غبرګون کې وویل: افغانستان به هیڅ کله له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو اعلامیه صادره نه کړي.

اوس مهال د ولسمشر حامد کرزي د ملي امنیت سلاکار ښاغلي رنګین دادفر سپنتا ویلي، چې امریکا غواړي، څو له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته هم هغه مهال، چې افغان امنیتي ځواکونو ته به د ټول هېواد د امنیت چارې وسپارل شي، تر ۲۰۲۴ زېږدي کاله په افغانستان کې پاتې شي.

ښاغلي سپنتا دا هم ویلي، چې هڅې روانې دي، څو د بن دویم نړۍ وال کنفرانس څخه وړاندې، چې ټاکل شوی د روان زېږدي کال تر پایه به په آلمان کې دایر شي د امریکا او افغانستان ترمنځ ستراتیژیک تړون لاسلیک شي.

لکه څنګه، چې لیدل کیږي تر دې مهال له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو تړون نه دی لاسلیک شوی او سپنتا ویلي، چې امریکایي ځواکونه به تر ۲۰۲۴ په افغانستان کې میشت وي. دلته پوښتنه را ولاړېږي، چې دغه ځواکونه به د کوم سند پر بنسټ تر ۲۰۲۴ کاله په افغانستان کې میشت وي، آیا د ۲۰۰۳ زېږدي کال د تړون پر بنسټ او که د افغان او امریکایي چارواکیو تر منځ به د بندو دروازو تر شا نور څه لاسلیک شوي وي؟

که د ۲۰۰۳ زېږدي کال د تړون پر بنسټ په افغانستان کې امریکایي ځواکونه میشت وي نو لکه څنګه، چې په تیرو کلونو کې د بهرنیو ځواکونو له لورې د خلکو کورونه پخپل سر پلټل کیږي، بې ګناه کسان وژل کیږي، او د خلکو په کورونو بمبارۍ تر سره کیږي اوس به هم دوام ولري؟

همدارنګه دلته بو بل ټکی هم شتون لري او هغه دا، چې په افغانستان کې د امریکا سفیر راین کراکر ویلي وو: امریکا له افغانستان سره د ستراتیژیکو همکاریو تړون نه لاسلیکوي او یوازې به د ستراتیژیکو همکاریو اعلامیه وي، چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له لورې دغه خبره په ښکاره رد شوه.

خو ایا افغان حکومت دا وړتیا او واک لري چې امریکا ته د ستراتیژیک تړون د لاسلیکیدو لپاره نه وواېي؟

که اعلامیه وي او افغان دولت رد کړي وي نو بیا په افغانستان کې له ټاکل شوي نېټې وروسته د امریکایي ځواکونو پاتې کیدل د کوم تړون او کومې اړتیا له مخې؟ او یا داسې چې افغان حکومت په پټه له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو اعلامیه، چې هیڅ راز الزامیت نه لري لاسلیک کړې وي؟

که په رښتیا هم افغان حکومت له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو اعلامیه لاسلیک کړې وي، نو د تیرو لسو کلونو مزل به تر راتلونکیو لسو کلونو پر مخ بیایي او په پای کې به هدف ته هم نه رسیږو.

بل ټکی په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو لپاره د پوځي اډو شتون دی، چې ښاغلي سپنتا ویلي: تر ۲۰۲۴ زېږدي کاله به په افغانستان کې دامریکا لپاره ځانګړې پوځي اډې ور نه کړي او امریکایي ځواکونه کولای شي، څو له افغان ځواکونو سره یو ځای په پوځي کمپونو او اډو کې خپل فعالیت ته دوام ورکړي.

دغه خبره د امریکا د دفاع پخواني وزیر ښاغلي رابرټ ګیټس هم کړې وه، او ویلي وو: امریکا په افغانستان پوځي اډې نه غواړي او له افغان امنیتي ځواکونو سره به په ګډه او په پوځي اډو کې میشت وي.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که ځير شو همدا اوس امريکا د هيواد په ځينو برخو کې د داسې پوځي تاسيساتو په جوړولو بوخته ده، چې کار يې له ۲۰۱۴ زېږديز کال وروسته بشپړېږي، نو څنگه ويلای شو، چې امريکا په افغانستان کې پوځي اډې نه غواړي حال دا، چې همدا اوس يې په جوړولو بوخته ده؛ خو کېدای شي، چې پدغو پوځي اډو کې ځينې افغان ځواکونه هم ميشت کړی شي، څو د د وی پر وړاندې د خلکو حساسيتونه را و نه پارېږي او دوی په آسانۍ سره و کولای شي دلته ميشت شي.
افغانستان د امريکا لپاره يو مهم ستراتيژيک موقعيت دی او امريکا ته اوس ښه بهانه په لاس ورغلې نو نه غواړي چې د شوروي له ماتې وروستې په شان يې يو ځل بيا يوازې پرېږدي بلکې هڅه کوي چې په سيمه کې د اوږدمهاله شتون لپاره زمينه برابره کړي، نو کله چې امريکا غواړي په افغانستان کې پاتې شي افغان دولت ته په کار ده، چې له موقع څخه په گټنې سره له دې ټولو دا جوتيږي، چې امريکا په يو ډول نه يو ډول سره غواړي، څو په افغانستان کې نه تر ۲۰۲۴ زېږدي کاله بلکې تر اوږدې مودې پاتې شي، چې دلته بيا د افغان حکومت او په ټوله کې د افغان دولت پر غاړه ده، چې څنگه کولای شي په افغانستان کې د امريکا له شتون څخه د خپل هواد ملي گټو او په هيواد کې د سولې او ثبات په راوستو کې گټه پورته کړي؛ خو تر ټولو اړين دا دي، چې افغان دولت دې خپل منځي شخړې حل او په دولت کې د شته فساد او مفسدينو پر وړاندې په جدي توگه مبارزه پيل کړي، څو يو سالم حکومت ولرو، که داسې نه وي بيا به هم هيڅ لاسته را نه وړو امريکا به وکولای شي، خپلې مشروع او نامشروع غوښتنې پر موږ ومنې.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ